# د افغانستان اسلامی امــارت
# د کانونو او پټرولـیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



**ګڼه: ۴۱**

**نیټه: ۳۰/وری/۱۴۰۱**

# د کندهار او بغلان ولایتونو د پنځو سیمو کانونو داوطلبي.

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت د کندهار ولایت د چنار توتنګی سیمې کوارتز کانونو، د بغلان ولایت مروبالا سیمې مرمر، د خواجه زید سیمې لومړی او دوهم بلاک مرمر او د کندهار ولایت د سرآب کوه زمبرکان سیمې تالک چې مخکې اعلان ته سپارلي وو پنجشنبه ۱۴۰۱/۶/۱۷ د وزارت په مقام کې داوطلبي په شفافه توګه تر سره کړه.

د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د ښاغلي انجینر وحیدالله حلیمي تخنیکي مرستیال، مولوي حسام الدین صابري مالي او اداري مرستیال، شیخ ضیاءالرحمن اریوبي د پالیسۍ مرستیال د موظف هیئت او ۲۴ هغه شرکتونو په ګډون کې چې د پروپوزلونو په ارزونه کې یې د داوطلبۍ شرایط پوره کړي وه داوطلبي ترسره کړه.

په دغه داوطلبۍ کې د کندهار ولایت چنار توتنګی سیمې کوارتز ګلابي کان ګټونکی د عبید ایوب نوري شرکت د رویالټي په قیمت في ټن ۸۰۰۰ اته زره افغانۍ، د بغلان ولایت دوشي ولسوالۍ مروبالا سیمې مرمر کان ګټونکی د معادن مخکش افغان شرکت د رویالټي په قیمت في ټن ۴۳۵ څلور سوه پنځه دېرش افغانۍ، د خواجه زید سیمې لومړی بلاک مرمر ګټونکی د عبید ایوب نوري شرکت د رویالټي په قیمت في ټن ۹۰۰ نهه سوه افغانۍ، د خواجه زید سیمې دوهم بلاک مرمرو ګټونکی د ممتاز ایاز شرکت د رویالټي په قیمت في ټن ۹۰۰ نهه سوه افغانۍ او د کندهار ولایت سرآب کوه زمبر کان سیمې د تالک کان ګټونکی د رویالټي په قیمت في ټن ۱۹۰۰ یو زره او نهه سوه افغانیو په ارزښت اعلان کړل.

# د قوانینو او پالیسیو او د هغې د تطبیق د څارنې لپاره د روزنیز پروګرام جوړول

ر

**کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه**



د کانونو او پټرولیم وزارت د بشري سرچینو ریاست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له ریاست سره په همغږۍ د ۶۰ تنو د دوهم او دریم بستونو کارکوونکو د پوهاوي په موخه د قوانینو او پالیسیو تر سرلیک لاندې د مالي او اداري مرستال مولوي حسام الدین او د بشري سرچینو رئیس احمد ضیا خاکسار په ګډون نن یکشنبه ۱۴۰۱/۶/۲۰ نېټې د یاد وزارت د غونډو په تالار کې پنځه ورځنی روزنیز پروګرام جوړ کړ.

غونډه د رسنیو ټیم د آمر قاري عبدالحکیم له خوا د قرانکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل او وروپسې د مالیي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین له خوا رسماً پرانیستل شوه. او ټولو ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ د یاد پروګرام په اړه لنډې خبرې وکړې.

وروپسې د اداري چارو د اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د حقوقي چارو مرستیال انجنیر ویس الدین ویس د غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست وویل او له ټولو کارکوونکو څخه هیله وکړه چې له دې فرصت څخه سمه ګټه پورته کړي او په پیل شوي پروګرام کې برخه واخلي، څو د خپلو ظرفیتونو په لوړولو سره خلکو او هېواد ته ښه خدمات وړاندې کړي.

په پای کې د ادارې د قوانینو او پالیسیو او د هغې د تطبیق د څارنې اړوند روزنیز پروګرام د قوانینو او حقوقي اسنادو د تطبیق د څارنې آمر ښاغلي حیات الله محمدي له خوا د پریزنټیشن په بڼه د غونډې ګډونوالو ته وړاندې شو.

# د قوانینو او پالیسیو او د هغې د تطبیق د څارنې تر عنوان لاندې روزنیز پروګرام ګډونوال پر سټاینلیکونو وستایل شول





د اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري په همغږۍ د مرکزي رياستونو د دويم او دريم بستونو ۶۰ تنو کارکوونکو ته د قوانينو او پاليسيو او د هغې د تطبيق د څارنې تر عنوان لاندې روزنيز پروګرام چې د يکشنبې په ورځ د ۱۴۰۱/۶/۲۱ نېټې د يوې اونۍ لپاره پيل شوی وو نن د تصديقنامو په ورکولو سره پای ته ورسيد.
د ياد پروګرام په مناسبت چې د کانونو او پټروليم وزارت د غونډو په تالار کې که غونډه جوړه شوې وه، د کانونو او پټروليم وزارت سرپرست وزير شيخ الحديث شهاب الدين دلاور، معينانو، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئيس مولوي عبدالحنان عارف الله، د چارو اداري د پاليسيو او څارنې مرستيال او سرپرست رئيس مولوي سيف الدين تائب، رئيسانو او يو شمېر کار کوونکو په کې ګډون کړی وو.
د کانونو او پټروليم وزارت سرپرست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئيس او کار کوونکو څخه مننه وکړه او وويل: هيله من يم چې په دغه يوه اونۍ کې مو زياتې لاسته راوړنې او تجربې تر لاسه کړې. او هيله يې څرګنده کړه چې دا ډول ښوونيزو پروګرامونو لا زيات جوړ او تطبق کړل شي .
د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئيس مولوي عبدالحنان عارف الله د کانونو او پټروليم وزارت له همکارۍ څخه مننه وکړه او زياته يې کړه: خوښ يم چې دغه روزنيز پروګرام مو د ياد وزارت د بشري منابع د رياست په همغږي د کارکوونکو د پوهاوي کچې لوړولو په موخه جوړ کړی وو او له هغو تجربو څخه چې د ياد پروګرام په مختلو برخو کې مو زده کړي په راتلونکي کې ښه استفاده وکړئ .
او همدارنګه د پروګرام په پای کې هغو ټولو کار کوونکو ته چې په ياد پروګرام کې له پيل څخه تر پای ګډون کړی وو تصديقنامې ورکړل شوې. ګډنوالو د دا ډول پروګرامونو به جوړولو څخه مننه وکړه او ژمنه يې وکړه چې له دغه پروګرام څخه د تجربو لاسته راوړلو څخه به سمه استفاده کو او په راتلونکې ورته پروګرامونو غوښتونکي يو.

د وزارت کانونو او پټرولیم افغانستان اسلامي امارت
MINISTRY OF MINES AND PETROLEUM

**کانونو او پټرولیم**
**وزارت اوونیزه**


# د لغمان ولایت کاني ظواهر


لغمان ولایت د شمال له لوري له نورستان او پنجشیر، په ختیځ کې له کونړ، په سویل کې له ننګرهار او په لودیځ کې کابل او کاپیسا ولایتونو سره ګډه پوله لري.
د احصایي او معلوماتو ملي اداري د کلني نفوس اټکل له مخې د دې ولایت نفوس شاوخوا ( ۴۹۳،۴۸۸) تنو ته رسېږي.
د افغانستان د جیولوژیکي او د کانونو اړونده څانګي لخوا تر سره شوې سروې ګانو له مخې، یاد ولایت بې شمېره معدني ظواهر او کانونه لري. چې له هغې جملې څخه سیزیم او ربودیم په کورغل او کولام کې، تورمالین په کورغل کې، ګرانودیوریټ او ابرک د ډرونټې په ساحه کې موقعیت لري.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید








د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونۍ کې د ۱۴۰۱/۶/۱۷ نېټې څخه تر ۱۴۰۱/۶/۲۳ نېټې پورې (428،094،113) څلور سوه اته ویشت میلیونه، څلور نوي زره او یو سل دیارلس افغانۍ عواید راټول کړي.


د امتیاز خاوند:
د کانونو او
پټرولیم وزارت

مسوول مدیر:
شمس الدین
(مصلح)

ترتیب او تنظیم :
استاد نجیب الله
(رحیمي)

طرح او ډیزاین:
محمد فرهاد (عبیدي)
او مطیع الله (سحر)